محمدهمایون همت

۲۰۲۶/۰۴/۲۳

# د دیورند د فرضي کرښې ملي زخم

## او د ښا غلی یونس نگاه د استدلال علمي نقد

**یادونه:** دا مقاله د ښا غلی یونس نگاه د مقالې «چند نکته درمورد خط دیورند» علمي او مؤدب نقد دی. یاده مقاله په دري ژبه د افغان جرمن آنلاین په وېبپاڼه کې د ۲۰۲۶م کال د اپرېل پر ۲۱مه خپره شوې ده. د دې یادونې موخه دا ده چې لوستونکی د نقد د موضوع له اصلي مقالې، د خپرېدو له ځای، ژبې او نېټې سره له پيله اشنا شي.

**سریزه**

د دیورند فر ضی کرښه د افغانستان په معاصر تاریخ کې یوازې یوه جغرافیایي کر غیرنه نښه نه ده؛ دا د استعماري مداخلې، تاریخي وېش، قومي توټه کېدو، سیاسي فشار او ولسي درد له هغو ژورو مسئلو څخه ده چې د افغانانو په ملي حافظه کې یې خپل دروند ځای نیولی دی. د ۱۸۹۳م کال د دیورند موافقه د برتانوي هند او امیر عبدالرحمن خان ترمنځ د نفوذ د ساحو د تنظیم په چوکاټ کې په ظا لمانه او جبری ډول رامنځته شوه، او وروسته یې د پښتني او بلو څو سیمو د وېش او د دوامداره شخړو بنسټ کېښود.
معتبرې مرجعې لکه Encyclopaedia Britannica څرګندوي چې همدا کرښه د پښتني سیمو د جلاوالي او د افغانستان ـ پاکستان د اوږدمهاله لانجې له مهمو سرچینو څخه وګرځېده.
له همدې کبله، د دې موضوع په اړه هره لیکنه باید یوازې د شخصي برداشت او ژورنالیستي تأثر پر بنسټ ولاړه نه وي، بلکې د تاریخ، حقوقي شالید، ولسي احساساتو او سیاسي واقعیتونو ترمنځ په احتیاط او انصاف سره تګ وکړي. ښا غلی یونس نگاه په خپلې یادې مقالې کې ځینې ټکي راپورته کړي، خو د مقالې په څو اساسي برخو کې داسې عمومي حکمونه، استدلالي کمزورۍ او فکري تمایلات لیدل کېږي چې د علمي نقد، تاریخي توازن او ملي مسؤولیت له معیارونو سره په بشپړ ډول برابر نه ښکاري.

**ایا هر هغه تحلیل چې ځان معتدل معرفي کوي، رښتیا هم متوازن وي؟**

په افغانستان کې د ملي او تاریخي موضوعاتو په اړه ځینې لیکنې د «اعتدال»، «واقعبینی»، «سیاسي پخوالي» او «عقلانیت» په ژبه وړاندې کېږي، خو اصلي پوښتنه دا ده چې ایا هر هغه تحلیل چې په ظاهره نرم او متوازن ښکاري، په محتوا کې هم له تاریخي انصاف سره مل وي؟
ځواب دا دی چې تل نه. ځکه ځینې وخت داسې پېښېږي چې یوه لیکنه د شعار او مبالغې پر ضد د غبرګون په نوم، په بل لوري کې د ملت د تاریخي زخم، د استعماري ظلم او د ولس د مشروع حساسیت وزن دومره کم کړي چې لوستونکی ورو ورو د حق پر ځای د تسلیمۍ له منطق سره عادت شي.
په همدې ځای کې د ښا غلی یونس نگاه د مقالې یو مهم ضعف راڅرګندېږي.
لیکوال که څه هم ظاهراً غواړي مسئله له احساساتو راوباسي او «سیاسي واقعیت» ته یې نږدې کړي، خو په څو برخو کې داسې استدلال کوي چې د افغان ولس تاریخي درد او د دیورند کرښې استعماري ماهیت یې له خپل اصلي وزن څخه کم او سپک ښکاري.
دا نقد د شخص پر ضد نه، بلکې د هغه د استدلال پر بنسټ ولاړ دی.

**د مقالې یوه نسبي مثبته برخه**

له انصافه لرې ده چې مقاله مطلقاً بې‌ارزښته وبلل شي.
لیکوال په یوه مهم ځای کې دا منلې چې د دیورند مسئله یوه «ژوندی او خونچکانه» منازعه ده او لا هم د تاوتریخوالي او بې‌ثباتی له معادلو سره تړاو لري. دا اعتراف مهم دی، ځکه د دیورند کرښې شخړه په رښتیا هم له تاریخي لحاظه مړه موضوع نه ده.
همدارنگه، دا خبره هم تر یوه بریده پر ځای ده چې د کرښې دواړو غاړو ته د خلکو کلتوري، اقتصادي او ټولنیز ژوند د دې وېش له امله اغېزمن شوی دی.
خو ستونزه دا ده چې لیکوال له دې سمې مقدمې وروسته په ځو برخو کې له تحلیلي توازنه وځي، او داسې پراخې نتیجې اخلي چې د لازم سند او علمي احتیاط له نشتوالي سره مخ دي.

**د افغان ولس د دریځ په اړه بې‌ثبوته عمومي کول**
د مقالې له مهمو کمزوریو څخه یوه دا ده چې لیکوال د افغانستان د بېلابېلو سیمو د خلکو د ذهني او عاطفي دریځ په اړه پراخې او بې‌ثبوته ادعاوې کوي.
هغه په ضمني او صریحو عبارتونو کې دا فضا جوړوي چې گواکې د « سرحدي »سیمو خلک دا مسئله له زړه احساسوي، خو د شمال، شمال‌ختیځ، مرکز او د لوېدیځ په ځینو برخو کې لویه برخه خلک له دې بحث سره نه عاطفي اړیکه لري او نه یې سیاسي وزن احساسوي.
همداراز د مخالفو غبرگونونو په اړه داسې ژبه کاروي چې لوستونکی دې نتیجې ته رسېږي چې گواکې د دې قضیې اصلي مدافعین یوازې یو احساساتي قشر دی.
دا استدلال ځکه کمزوری دی چې د داسې ملي او تاریخي مسئلې په اړه د اکثریت او اقلیت د موقف دعوه پرته له سروې، میداني څېړنې، ټولپوښتنې، یا مستندو سیاسي شواهدو علمي اعتبار نه لري.
د یو ملت د حافظې، درد او حساسیت اندازه د شخصي مشاهدهوو پر بنسټ نه ټاکل کېږي. که څوک وایي «اکثریت نه پروا لري» یا «یوازې لږ احساساتي خلک مخالفت کوي»، نو باید د دې ادعا تر شا علمي سند، احصائیه او منظم استدلال موجود وي. په مقاله کې دا نشته.

**ایا د تاریخي ظلم یادونه احساسات دي، که د ملي حافظې دفاع؟**
په داسې موضوع کې یوه بنسټیزه پوښتنه دا ده چې د دیورند کرښې پر ضد حساسیت یوازې احساساتي غبرگون دی، که د ملي حافظې او تاریخي حق دفاع؟
علمي او عادلانه ځواب دا دی چې دا حساسیت یوازې احساساتي نه دی.
د دیورند کرښه یوه عادي اداري پوله نه ده او نه وه؛
دا د استعماري سیاست محصول وه.
د ۱۸۹۳م کال موافقې پایله دا شوه چې پښتني سیمې سره ووېشل شوې او هغه ټولنیز، قومي او کلتوري تداوم چې د تاریخ په اوږدو کې موجود و، د یوې ا ستعمارې او ظالمې امپراتورۍ د امنیتي او جیوپولیتیکو اړتیاوو له مخې ودرول شو.
نو کله چې یو افغان د دې کرښې په اړه د درد، اعتراض او تاریخي حق خبره کوي، دا باید د «احساساتو» په نوم سمدستي تخفیف نه شي. دلته خبره د ملت د حافظې، د استعماري ظلم د میراث، او د تاریخي حق د پوښتنې ده.

**د مخالف دریځ کاریکاتوري کول**
د مقالې بله مهمه نیمگړتیا دا ده چې د دیورند کرښې مخالف لوری ( افغان ولس ) په ځینو ځایونو کې داسې انځوروي لکه : ژر هیجاني کېږي، ښکنځل کوي، له واقعیتونو لرې خیالات لري او له عقلاني سیاست سره بیگانه دي.
دا چلند د علمي مناظرې له اصولو سره برابر نه دی.
په سالم نقد کې مخالف موقف باید د هغه د قوي بڼې له مخې وړاندې او بیا وارزول شي.
که د دیورند مخالف دریځ په افغانستان کې د دولتونو، سیاسي جریانونو، قومي مشرانو، تاریخپوهانو او عام ا فغان ولس په حافظه کې ژوره سابقه لري، نو د هغه نقد باید د اسنادو، حقوقي منطق او تاریخي شواهدو پر بنسټ وشي، نه دا چې د احساساتو او رواني برچسپونه Psychological labels په ژبه کمزوری کړل شي.
کله چې یو لیکوال د مخالف موقف پر استدلال تمرکز نه کوي، بلکې د هغه پلویان د «احساساتي» او «غیرواقعي» خلکو په بڼه ښيي، نو هلته له علمي نقده د کاریکاتوري نقد پر لور اوړي. دا هم د مقالې د تحلیلي وزن کمزورتیا ده.

**فکري زمینه‌سازي څه ته وایي، او ولې مهمه ده؟**
په ټیپي ټولنو کې هر متن یوازې یو معلوماتي شی نه وي؛
هغه د ذهنونو د جوړولو وسیله هم وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

فکري زمينه‌سازي هغه وخت رامنځته کېږي چې يو روايت د ژبې له لارې ورو ورو داسي نرم شي چې لوستونکی د تحميل شوي وضعي پر وړاندې حساسيت له لاسه ورکړي او له تاريخي حق‌غوښتنې سره ذهني واټن پيدا کړي.
کله چې يوه ليکنه په تکراري ډول دا فضا جوړوي چې تاريخي حق‌غوښتنه ناممکنه ده، ملي حساسيت هيجاني دی، د ولس درد غيرعملي دی، او د مقابل لوري موقف معقول او پوخ ښکاري، نو دا ډول متن د يوې ځانګړې ذهني فضا په توليد کې برخه اخلي.
دا کار ښايي قصدي وي يا نه وي، خو پر اغېزو يې بايد سترګې پټې نه شي.

**د قلم امانت او د ملت د زخم درناوی**

د ملي او تاريخي زخمونو په اړه ليکنه يوازې ژبنی تمرين نه دی؛
دا د امانت موضوع ده. د قلم امانت دا غوښتنه کوي چې ليکوال د خپلې ژبې پر اغېز پوه وي،
د ملت له زخمي حافظې سره په تحقير او سهل‌انګارۍ چلند ونه کړي،
او د «واقع‌بينۍ» تر نامه لاندې د استعماري ظلم د عادي کولو لاره هواره نه کړي.
يو مسؤول افغان ليکوال بايد د خپلې ټولنې ارزښتونه، ملي وحدت، خپلواکي، ارضي بشپړتيا، او تاريخي درد د خپلې ليکنې له اخلاقي چوکاټه ونه باسي.
هغه که هر څومره انتقادي او تحليلي دريځ هم لري، بايد د ملت د زخمي حافظې درناوی هم د علمي انصاف برخه وبولي.

**ايا هر تحليل بې‌طرفه وي، که کله کله د نرمې تسليمۍ ژبه هم ګرځي؟**

يو ه مهه انتقادي پوښتنه دا ده:
کله تحليل له څېړنې اوړي او د ذهني تسليمۍ بڼه غوره کوي؟
ځواب دا دی چې هغه مهال چې ليکوال د تاريخ له سختو حقايقو، د ولس له مشروع درد، او د استعماري تحميل له څرګندو نښو سترګې نيمې پټوي، خو د موجود واقعيت د منلو فلسفه په نرمه او معتدله ژبه توليدوي. په دې حالت کې متن ظاهراً بې‌طرفه ښکاري، خو په محتوا کې د يوې نرمې تسليمۍ يا فکري ستړيا ژبه ګرځي.
د ښاغلی يونس نګاه په مقاله کې هم دا خطر ليدل کېږي. هغه د افغانستان داخلي ستونزې لکه تعليم، دولت‌سازي، او ديموکراتيک حکومت مهمې بولي، چې دا په خپل ذات کې پر ځای خبره ده؛ خو کله چې دا خبرې په داسي سياق کې راځي چې ګواکې د ډيورند پر ضد تاريخي حق‌غوښتنه د غيرواقعي احساساتو کار دی او بايد يوازې له دې «شعارونو» تېر شو، نو هلته د کاذب تقابل ستونزه پيدا کېږي.
د افغانستان داخلي اصلاح او د ډيورند په اړه تاريخي حساسيت يو د بل ضد نه دي. يو ملت هم د تعليم، عدالت، حقوقو، او دولت‌سازۍ غوښتنه کولای شي، او هم د استعماري کرښې د ماهيت په باب خپل تاريخي موقف وساتي.
نو «دا پرېږدئ، هغه وکړئ» منطق د بحث د تنګولو يوه بڼه ده، نه د حل لاره.

**د ۱۹۴۷ ريفرنډم په اړه نيمګړی تصوير**

مقاله سمه اشاره کوي چې د پاکستان له جوړېدو وروسته د کرښې هغې غاړې ته د برخليک بحثونه تود شول، خو د ۱۹۴۷ د ريفرنډم په باب بشپړ حقيقت نه وړاندې کوي. تاريخي سرچينې ښيي چې د شمال لوېديځ سرحدي ايالت لپاره د ريفرنډم اختيارونه يوازې «هند که پاکستان» وو؛
د خپلواکۍ، جلا سياسي هويت، يا د افغانستان سره د اړيکي کوم بديل پکې نه و. له همدې امله ځينو پښتني مشرانو او د خدايي خدمتګار غورځنګ اړوند مشرتابه دا پروسه نيمګړې او ناعادلانه بلله.
نو که څوک د «خلکو د انتخاب» خبره کوي، بايد دا هم ورسره روښانه کړي چې دا انتخاب محدود، تقليل شوی او له ټولو ممکنه بديلو محروم و.
له دې نيمګړتيا پرته د مسئلې انځورول، لوستونکی له تاريخي پېچلتيا محروموي.

**د پاکستان د پاليسۍ لپاره يو اړخيز علت‌تراشي**

ليکوال په ضمني ډول دا نظر وړاندې کوي چې پاکستان ځکه د طالبانو تر شا ودرېد چې د ډيورند مسئله يې حل شوې نه بلله.
دا ادعا کېدای شي د يوې ممکنې زاويې په توګه ياده شي، خو د ثابت تاريخي علت په بڼه يې وړاندې کول کمزوری تحليل دی.
د افغانستان او پاکستان اړيکي د ځو لسيزو په اوږدو کې د امنيتي ډورتيا، هند ضد ستراتيژۍ، قبايلي سيمو د کنترول، استخباراتي رقابت، کډوالۍ، جيوپوليتيکي معادلو او نړيوالو ائتلافونو تر اغېز لاندې وې او دی.

**د افغان واکمنانو د دريځ په اړه مطلقه ادعا**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په مقاله کې دا تاثر هم شته چې افغان واکمنانو د ډیورند موضوع یوازې د داخلي سیاست، امتیاز اخیستنې او تاکتیکي فشار لپاره کارولې ده، او له دې هاخوا یې ریښتینې علاقه نه لرله.
دا هم یوه مطلقه او بې‌تفکیکه دعوه ده. د بېلابېلو دورو افغان حکومتونه، له شاهي مرحلې نیولې تر جمهوري او نورو دورو پورې، یو واحد ذهنیت نه درلود.
سربېره پر دې، افغانستان په ۱۹۴۷ کې د پاکستان د ملګرو ملتونو غړیتوب ته یوازینی مخالف رأی ورکړه، چې دا د دې ښکارندويي کوي چې د افغانستان رسمي تحفظات ژور او سمبولیک نه، بلکې جدي وو او جدي دي.

**د نفوس او بشري وزن له واقعیت څخه ناسمه سیاسي نتیجه**
لیکوال د فر ضی کرښې هغې غاړې د بشري، اقتصادي او جیوپولیتیک وزن یادونه کوي او له هغې نه دا نتیجه نه نږدې کېږي چې د ادغام یا سیاسي بدلون په صورت کې به کابل او کندهار خپل محوري ځای له لاسه ورکړي.
د پاکستان د ۲۰۲۳ رسمي سرشمېرنې له مخې د خیبرپښتونخوا نفوس شاوخوا ۴۰.۸۵ میلیونه او د بلوچستان نفوس شاوخوا ۱۴.۸۹ میلیونه دی.
دا شمېرې ښیي چې د کرښې هغې غاړې ته لوی بشري وزن موجود دی، خو له دې واقعیت څخه دا نتیجه نه شي راوتلای چې د افغان ولس تاریخي حساسیت کم ارزښته شو یا د استعماري وېش پر ضد اعتراض بې‌بنسټه شو.

**د لیکوال مسؤولیت او د ملت د زخم امانت**
دلته اصلي بحث یوازې پر یوې مقالې نه راڅرخي؛
دلته د لیکوال پر رسالت هم خبره راځي.
په افغانستان غوندې ټیپي، مهاجره، ټوټه ټوټه شوې او اوږدمهاله بې‌ثباته ټولنه کې لیکنه د عامه ذهنیت په جوړولو کې مستقیم رول لري.
هره کلمه، هر تعبیر، او هره معادله د خلکو په حافظه او رواني فضا کې اغېز کوي. له همدې کبله، هغه څوک چې د ډیورند کرښې، د افغان ولس د مظلومیت، او د تاریخي حقونو په اړه قلم اخلي، باید د خپلې ژبې پر رواني او سیاسي اغېزو هم پوه وي.
که یوه لیکنه، په قصد یا بې‌قصده، داسې فضا رامنځته کوي چې پکې ملت خپل تاریخي حق ناممکن، خپل درد احساساتي، او خپل اعتراض بې‌فایدې وګڼي، نو دا ډول متن یوازې «تحلیل» نه پاتې کېږي؛ هغه د ذهني سترېا، نرمي عادي‌سازۍ او فکري زمینه‌سازۍ برخه ګرځېدای شي.
دا معنا نه لري چې هر مخالف نظر دې د بد نیت په تور محکوم شي؛
بلکې معنا یې دا ده چې د ملي زخمونو په اړه ژبه باید بې‌مسؤولیته نه وي.

**ایا د واقع‌بینۍ تر نامه لاندې د استعماري تحمیل منل علمي دریځ بلل کېدای شي؟**
واقع‌بیني هغه وخت ارزښت لري چې د حق او ظلم ترمنځ توپیر پټ نه کړي.
که یو تحلیل دومره «معتدل» شي چې د استعماري کرښې ظلم پکې سپک، د ملت حساسیت پکې احساساتي، او د منلو منطق پکې «پخه سیاسي پوهه» معرفي شي، نو دا نور اعتدال نه، بلکې د تاریخي حقیقت د وزن کمول دي.
علمي انصاف دا نه دی چې هر لوری نیم په نیم وښودل شي؛ علمي انصاف دا دی چې حقیقت ته متناسب وزن ورکړل شي.
په ډیورند بحث کې دا وزن هغه وخت عادلانه ساتل کېږي چې استعماري سابقه، د پښتنې سیمو وېش، د ۱۹۴۷ د ناعادلانه انتخاب نیمګړتیا، د افغان دولتونو رسمي تحفظات، او د ولس زخمي حافظه ټول سره په پام کې ونیول شي.
**پایله**
د ښا غلی یونس نګاه مقاله په ظاهره د اعتدال او واقع‌بینۍ ژبه کاروي، خو د ژورې ارزونې پر مهال څرګندېږي چې د استدلال په مهمو برخو کې له علمي احتیاط، تاریخي توازن او منطقي دقت څخه واټن نیسي.
په ځانګړي ډول، د افغانستان د بېلابېلو سیمو د خلکو د موقف په اړه بې‌ثبوته عمومي کول کوي،
د مخالف دریځ کاریکاتوري بڼه وړاندې کوي، د پاکستان د پالیسۍ لپاره یو اړخیز علت ټاکي، د ۱۹۴۷ د ریفرنډم نیمګړتیا پوره نه روښانوي، او د استعماري کرښې د تاریخي ظلم پر ځای د منلو او عملي سیاست ژبه غښتلې کوي.
له همدې امله، عادلانه او مستنده پایله دا ده چې ډیورند فر ضی کرښه یوه عادي اداري پوله نه، بلکې د استعماري سیاست له هغو میراثونو څخه ده چې لا هم د ولسونو پر ژوند، حافظه، هویت او سیاست سیوری اچوي.
د افغان ولس حساسیت، درد او اعتراض په دې باب تاریخي بنسټ لري.
هره لیکنه چې غواړي د اعتدال او عقلانیت ژبه وکاروي، باید له هر څه وړاندې د همدې حقیقت وزن ومني، نه دا چې د ملت د زخمي حافظې پر ځای د تدریجي منلو او ذهني سترېا فضا رامنځته کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

**سرچيني او مراجع**

۱) Encyclopaedia Britannica, “Durand Line.”
۲) 1947 North-West Frontier Province referendum — historical record on the options and boycott.
۳) Pakistan Bureau of Statistics, 7th Population and Housing Census 2023.
۴) Elisa Giunchi, “The Origins of the Dispute over the Durand Line”, Internationales Asienforum, 2013.
۵) یونس نگاه، «چند نکته درمورد خط دیورند»، افغان جرمن آنلاین، دري ژبه، ۲۱ اپریل ۲۰۲۶.

*چاپوړ مسوده*

محمدهمايون همت
جرمني 22.04.2026


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ